Law Office Of Spojmie Nasiri

Tel: 925.520.5195 • Fax: 925.369.7222
6200 Stoneridge Mall Road • Ste 300 • Pleasanton, CA 94588
spojmie@nasirilaw.com • www.nasirilaw.com

**Family Reunification Program for Afghan Relatives - (Form DS-4317)**
**افغان خپلوانو لپاره د کورنۍ بېرته یو ځای کېدلو پروګرام**
**https://www.state.gov/afghanistan-family-reunification/**

په دې خبره پوهېدل ډېر ضروري دي چې په ټولنیزو رسنیو او په خبرونو کې د بهرنیو چارو وزارت لخوا د افغان خپلوانو د کورنیو د بېرته یو ځای کېدلو پروګرام (Form DS-4317) په اړه په لویه اندازه ناسم او تېر ایستونکي معلومات لاس په لاس کیږي. مخکې له دې چې د کورنۍ یو غړي لپاره د عریضې د جمع کولو پروسه پیل کړل شي، دا په کلکه توصیه کیږي چې په امریکا کې د کډوالۍ یو وړ وکیل څخه قانوني مشوره وغواړئ. ډېر محتاط اوسئ ترڅو د هغو کسانو د فریب قرباني نه شئ چې په متحده ایالتونو کې جواز لرونکي وکیلان نه دي او څوک چې په درغلۍ سره ستاسو څخه پیسې غواړي او ستاسو د کورنۍ عریضې د ګړندي کولو ژمنه کوي.

تېر کال متحده ایالتونو د کورنیو د بېرته یو ځای کېدلو پروګرام معرفي کړو چې رسما د DS-4317 فورمې پنامه یادیږي. د دغه پروګرام موخه د هغو افغان کورنیو بېرته یو ځای کېدلو اسانتیا برابرول دي چې په اګست ۲۰۲۱ کې په کابل هوایي ډګر کې د تخلیې په ګډوډیو کې سره جلا شوي دي. DS-4317 فورمه په ځانګړي ډول هغو افغانانو لپاره طرح شوې ده څوک چې متحده ایالتونو ته د Operation Allies Welcome (OAW) یا Operation Allies Refuge (OAR) پیرولۍ لاندې داخل شوي دي.

د DS-4317 موخه دا ده چې دغو کسانو ته اجازه ورکړي چې د کورنۍ ځانګړو غړیو د بېرته یو ځای کېدلو لپاره عریضه جمع کړي. تاسو کولی شئ خپل د ژوند ملګري او خپلو نا واده شویو ماشومانو لپاره چې له ۲۱ کلنۍ څخه ښکته وي او له متحده ایالتونو څخه بهر وي عریضه جمع کړئ که چېرې تاسو افغان یاست او متحده ایالتونو ته د پیرولۍ په توګه داخل شوي یاست او تر اوسه پیرولي یاست یا تاسو متحده ایالتونو ته پیرولي داخل شوي یاست خو وروسته لنډمهاله خوندي حالت درکړل شوی.

له دغه مرستي سره، ستاسو قانوني د ژوند ملګری او ستاسو د ۲۱ کلنۍ نه ښکته نا واده شوي ماشومان ښایي متحده ایالتونو ته د ګډوالو په توګه داخلیدلو وړ واوسي. تاسو کولی شئ خپلو ماشومانو لپاره چې د ۲۰۲۱ د اګست په ۱۴ له ۲۱ کلنۍ څخه ښکته وي عریضه جمع کړئ. له دې نه علاوه، هغه افغان ماشومان چې څوک ورسره مل نه وه او په پیرول باندې امریکا ته داخل شوي وه هم دغه فورمه کارولی شي.

**دا باید په پام کې ونیول شي چې د کورنۍ د بېرته یو ځای کېدلو فورمه DS-4317 دې موخې لپاره نه ده چې د امریکا اتباعو یا قانوني دایمي اوسیدونکو لپاره د کورنیو پر اساس عریضې چټکې کړي. له دې نه علاوه قانوي دایمي اوسیدونکي نشي کولی چې خپل مور او پلار لپاره عریضې جمع کړي، هغوي باید لومړی د امریکا اتباع شي تر څو دې کار لپاره وړ وګرځي**

د متحده ایالتونو د مهاجرت اوسني قوانینو سره سم، هغه کسان چې یا د متحده ایالتونو اتباع دي یا قانوني دایمي اوسیدونکي دي کولی شي متحده ایالتونو ته د مهاجرت لپاره د کورنۍ ځانګړي غړیو مالي ملاتړ وکړي. د کورنۍ غړو مالي ملاتړ کولو لپاره د وړتیا معیار

ستاسو په تابعیت، د کډوالۍ وضعیت او هغه طریقې پورې اړه لري په کومه طریقه چې تاسو متحده ایالتونو ته داخل شوي یاست.


Tel:925.520.5195 • Fax: 925.369.7222
6200 Stoneridge Mall Road • Ste 300 • Pleasanton, CA 94588
spojmie@nasirilaw.com • www.nasirilaw.com

Law Office Of Spojmie Nasiri

**Tel: 925.520.5195 • Fax: 925.369.7222**
**6200 Stoneridge Mall Road • Ste 300 • Pleasanton, CA 94588**
**spojmie@nasirilaw.com • www.nasirilaw.com**

که تاسو د متحده ایالتونو تبعه یاست:

د متحده ایالتونو د اتباعو لپاره، د دوی د ژوند ملګری، ماشومان، او والدین ممکن په احتمالي توګه متحده ایالتونو ته د سمدستي مهاجرت لپاره وړ وي. د متحده ایالتونو اتباع کولی شي د خپلو خویندو او ورونو او غیر واده شوي بالغ ماشومانو لپاره هم عریضه وکړي ، څوک چې د ویزې ترلاسه کولو وروسته مهاجرت کولی شي. **خو دا باید ومنئ چې د ورونو لپاره د عریضې ډکول کیدای شي اوږده پروسه وي، ډیری وختونه د بشپړولو لپاره لس کاله یا ډیر وخت نیسي. له بده مرغه، د امریکا حکومت په افغانستان کې د کورنۍ د غړو د ګواښونو سره سره، ګړندی بهیر نه لري.**

**که تاسو د متحده ایالتونو قانوني دایمي اوسیدونکي یاست:**

که تاسو په متحده ایالتونو کې د قانوني دایمي اوسیدونکي حیثیت لرئ، ستاسو د ژوند ملګری، د 21 کالو څخه کم عمر لرونکي غیر واده شوي ماشومان، او غیر واده شوي بالغ زامن او لونې کیدای شي متحده ایالتونو ته د کډوالۍ وړ وي. که ستاسو ماشوم له 21 څخه پورته وي او واده شوی وي، تاسو به ونشئ کولی چې خپل ماشوم لپاره د قانوني دایمي اوسیدونکي حیثیت ثبت کړئ ځکه چې د 21 کالو څخه پورته ماشومانو لپاره د مهاجرت ویزې کټګورۍ نشته چې واده شوي وي. د کډوالۍ دا پروسه معمولا ډیری کلونه دوام کوي، او د کورنۍ د غړو لپاره د عریضو د ګړندي کولو لپاره کومه جوړه شوې کړنلاره شتون نلري.


**Tel:925.520.5195 • Fax: 925.369.7222**
**6200 Stoneridge Mall Road • Ste 300 • Pleasanton, CA 94588**
**spojmie@nasirilaw.com • www.nasirilaw.com**